**مطبوعاتي اعلاميه**

**په ۱۰ ټکو کې د اقتصادي ناورين اسلامي حلارې**

حزب التحرير ـ ولايه ترکيه په استانبول ښار کې د يوې خبري ناستې په جوړلو سره د ترکيې د اقتصادي ناورين حلاره وړاندې کړه، چې سرليک يې و: «په ۱۰ ټکو کې د اقتصادي ناورين اسلامي حلارې». د ۲۰۲۲م، د جنورۍ په ۵مه، پينځو وروښو په يوه خبري کنفرانس کې ګډون وکړ، اقتصاد پوه حکي آران، د اسلامي اقتصاد کار پوه محمد حنفي يغمور، د راډيکال مجلې يو ليکوال موسى بيوغلو، د راډيکال مجلې مسوول مدير سليمان اوغرلو او په ترکيه کې د حزب التحرير د مطبوعاتي دفتر مشر محمد کار د ۱۰ ماده ييزې اسلامي حلارې په ښېړنې پلي کېدو ټينګار وکړ، چې کولای شي اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي.

**د اسلامي حلارو د ۱۰ ټکو سرليکونه په لاندې ډول دي:**

۱- انفلاسيون او د ژوند لګښت

۲- صنعتي سکټور، صنعتي پاليسي او هغه څه چې بايد ترسره شي

۳- د کرنې او مالدارۍ پياوړتيا

۴- د کار زمينه برابرول او د بيکارۍ کچه راټيټول

۵- د عايداتو عادلانه وېش

۶- له ماليې څخه پاک اقتصاد

۷- د بيلونو تصفيه کول

۸- د سوداګرۍ پياوړتيا

۹- د عامه شتمنيو ساتنه او د سپما په اړه اقدامات

۱۰- د نړيوالو بنسټونو او تړونونو لغوه کول

موږ له واکمنانو غواړو تر څو دا اسلامي حل لارې تطبيق کړي، چې موږ خلکو ته روښانه کړې دي.

**اې واکمنانو:** د اقتصاد مخ پر ځوړند حالت روښانه دی. همدا راز، نوي اقتصادي ماډلونه چې د حل لپاره تطبيق شوي، د خلکو پر اوږو نور بار اچوي او د پانګې د مالکينو او بانکونو شتمني ډېروي. ايا تاسو رښتيا هم دا د ځان لپاره مناسب ګڼئ، چې خلکو ته د خدمت کولو پر مهال د هغوی شتمنۍ غصب کړئ!؟

تاسو د کارګر د خولې مړی، د کارګر کار او د سوداګر ګټه د سپينو زرو په بيه د پانګې مالکينو ته وړاندې کوئ. تاسو همدا راز د سياسي وېرې او شخصي ارمانونو له امله عامه شتمنۍ ضايع کوئ! داسې ښکاري چې تاسو د اقتصادي ناورين د له منځه وړلو هڅه کوئ، خو په پانګوال نظام کې د حل لارې په لټه کې ياست چې د ټولو اقتصادي ستونزو سرچينه ده. دلته زموږ اسلامي حلارې شته! چې هره حلاره په قانوني متن پورې اړه لري. اوس، سمدلاسه د داسې حلارې لپاره زموږ وړانديزونه پلي کړئ، پرته له دې چې نور وخت ضايع کړئ! که دا کار وکړئ، تاسو به د خپل ځان او خپلو خلکو لپاره سم کار کړی وي او که د حقوقي نصوصو په څارلو کې مخلص ياست، نو د اقتصادي ناورين د حل لپاره دا وړانديزونه پلي کړئ!

**موږ له مسلمانانو هم غواړو:**

**اې مسلمانانو:** د فقر، بې وزلۍ، انفلاسيون او لوږو بيو او په لنډه توګه د دې غلامانه ژوند يوازينی لامل پانګوال نظام دی. دا نظام د خلکو نه، بلکې يوازې د شتمنو ساتنه کوي. دا مه هېروئ چې دا نظام د تارکشې د ځال په څېر کمزوری دی او برخليک يې ړنګ او ورک دی، انشاءالله. په دې کې شک نشته چې د هر څه لپاره يو ټاکلی وخت دی. همدا راز په دې کې هم شک نشته چې دا فاسد پانګوال نظام چې د بشريت پر وړاندې ظلم کوي يو ټاکلی وخت لري. هر ناورين چې تيرېږي خپل ژوند نور هم لنډوي. کله چې د الله تعالی له لوري ټاکل شوی وخت راشي نو پانګوال نظام به د پخوا په څير راوپرځېږي. په همدې ډول، په نړۍ کې هر څه پيل لري؛ ان شاء الله د اسلام لمر به د نبوت پر منهج د راشده خلافت په بيا تاسيس سره راپورته شي، بيا به د ځمکې پر مخ د خلافت په دولت کې چې اسلامي دولت دی، اقتصادي نظام نافذ شي. په دې اساس موږ بايد په ګډه کار وکړو تر څو د راشده خلافت دولت جوړ کړو، چې نړۍ د پانګوال نظام له منګولو څخه ازاده کړي، په اسلامي هيوادونو او په ټوله نړۍ کې به ثبات، عدالت او امنيت تامين کړي.

الله تعالی فرمايي:

**[لِمِثْلِ هذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ]** [صافات: ٦١]

**ژباړه:** *«د همداسې بريا لپاره بايد عمل کوونکي عمل وکړي.»*

د حزب التحریر- ولایه ترکیه مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۳ هـ.ق، د جمادي الثاني ۳مه

۲۰۲۲م، د جنوري ٦مه

د صدور گڼه: ۱۴۴۳/۰۸